DA AFGHANISTAN BANK

**د افغـــانســـتان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسسو د خارنې لوی آمریت**

# د ادایینیزو مؤسسو د کړنو د خارنې او تنظیم مقرره

# مقرره تنظیم و نظارت فعالیت مؤسسات تادیاتی

۱۴۴۵ هـ

د افغانستان اسلامي امارت
دافغانستان بانک
د حقوقي مشاورين دفتر
Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank

## د موضوعاتو لړلیک

لومړی څپرکی

عمومي حکمونه

لومړۍ ماده: مبنی: ........ ۱
دويمه ماده :موخې ........ ۱
درېيمه ماده: د پلي کېدو ساحه ........ ۱
څلورمه ماده: اصطلاح ګانې ........ ۱
پنځمه ماده: د اداینېزو مؤسسو ماډل ........ ۳
شپږمه ماده: د غوښتنې د فورمې ډکول ........ ۳
اوومه ماده: د غوښتنې شرطونه ........ ۳
اتمه ماده: د شرکت پانګه ........ ٤
نهمه ماده: د پالیسیو او کړنلارو تولګه ........ ٤
لسمه ماده: سوداګریز پلان ........ ٥
يولسمه ماده: د شرطونو د پلي کېدو څخه ډاډ تر لاسه کول ........ ٦
دوولسمه ماده: د ونډه لرونکي/ ونډه لرونکو بدول او د مالکيت لېږد ........ ٦
ديارلسمه ماده: د مؤسسې منحلول ........ ۷
څوارلمسه ماده: د فعاليت د جواز ځنډول ........ ۷
پنځلسمه ماده: د فعاليت دجواز فسخه کول ........ ۹
شپاړلسمه ماده: د جواز ورکيدل يا سوځېدل ........ ۹
اوولسمه ماده: فيسونه ........ ۱۰
اتلسمه ماده: د اداري جوړښت شرايط ........ ۱۱
نولسمه ماده: د ونډوالو عمومي مجمع ........ ۱۱
شلمه ماده: د څار پلاوي جوړښت ........ ۱۲
يو ويشتمه ماده: د څار پلاوي د ترکيب او ګمارنې شرايط ........ ۱۳
دوه ويشتمه ماده: د څار پلاوي دندې او مسؤوليتونه ........ ۱۳
درويشتمه ماده: د عامل پلاوي تشکيلاتي جوړښت ........ ۱٥
څلورويشتمه ماده: د عامل پلاوي دندې او مسووليتونه ........ ۱٥
پنځه ويشتمه ماده: داخلي او بهرنی پلټونکی ........ ۱۷
شپږ ويشتمه ماده: د ګواښونو او د قوانينو او مقرراتو څخه د رعايت او پيروۍ آمر د ګمارنې شرطونه ........ ۱۷
اووه ويشتمه ماده: جواز لرونکي فعاليتونه ........ ۱۷
اته ويشتمه ماده: منع شوي فعاليتونه ........ ۱۸
نهه ويشمه ماده: د محرميت ساتنه ........ ۱۸



Office of the General Council
Da Afghanistan

لسم دېرشمه ماده: د ادراینیزي مؤسسې کړنې ........................................ ۱۸
یو دېرشمه ماده: استازي او پلورونکي ........................................ ۲۰
دوه دېرشمه ماده: د نښلېدو ورتیا ........................................ ۲۱
درې دېرشمه ماده: د معاملو تصفیه او پراوونو تیرول ........................................ ۲۱
څلور دېرشمه ماده: راپور ورکول ........................................ ۲۱
پنځه دېرشمه ماده :دساحې دننه او د ساحې بهر ځارنه ........................................ ۲۲
شپږ دېرشمه ماده: د پېرودونکو ساتنه ........................................ ۲۳
ووه دېرشمه ماده: پلي کیدونکي اقدامات ........................................ ۲۴
اته دېرشمه ماده: داخلي کړنلارې ........................................ ۲۵
نهه دېرشمه ماده: دکره او باوري معلوماتو وراندې کول ........................................ ۲۵
څلوېښتمه ماده :انفاذ........................................ ۲۵



د افغانستان اسلامي امارت
دافغانستان بانک
دحقوقي مشاورېت دفتر
Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين!

## د اداینیزو مؤسسومؤسسو د کړنو د څارنې او تنظیم مقرره

## لومړی څپرکی
## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د افغانستان بانک قانون د ۸۷، ۸۸، ۸۹ او ۹۱ مادو د حکمونو پر بنسټ چمتو او نافذه شوې ده.

**موخې**

**دویمه ماده:**

د دې مقررې موخې په لاندې ډول دي:

۱- د جواز صادرول، د جواز نوي کول، د جواز ځنډول، د جواز لغوه کول او د اداینیزو مؤسسو د کړنو پورې اړوند نورو موضوعاتو لپاره د شرایطو ټاکل.

۲- د اداینیزو مؤسسو په کړنو او کړنلارو څارنه.

**د پلي کېدو ساحه**

**دریمه ماده:**

(۱) دا مقرره په ټولو حقیقي او حکمي اشخاصو (کورنیو او بهرنیو) چې په افغانستان کې د اداینیزو خدمتونو د چمتو کولو غوښتنه کوي، پلي کېږي.

(۲) دغه مقرره په بانکونو، د هغوی په څانگو، د بهرنیو بانکونو په څانگو چې د افغانستان بانک له خوا د فعالیت اجازه ورکړل وي، نه پلي کېږي.

**اصطلاح گانې**

**څلورمه ماده:**

په دې مقرره کې یادې شوې اصطلاحگانې لاندې معناوې لري:

۱- د بریښنایي ادایـنـو مـلي سـویـچ (د افغانسـتـان د ادایـنـو سیسـتـم): لـه هـغې اداري څـخـه عبارت ده چې د هیـواد پـه کچـه د بریښـنایي ادایـنـو پـروسې د اسـانتیا لپـاره د مـالي ادارو (بـانکي او غـیر بـانکي) سیسـتـمونو نښـلـولو لپـاره، لـه قوانینـو سره سـم، بـین البانکي اړیـن میتودونـه او معیارونـه ټـاکي. دا سیسـتـم د هیـواد د مـلي کـارت پـلان معیارونـه چې تخـنـیکي او سـوداگریز تنظیمات پکې شامل دي هم چمتو کوي.

۲- ترلاسه کوونکی بانک: هغه بانک دی چې د اداینو بریښنایي وسیله لري او په ورته وخت کې د نورو بانکونو

## مقرره تنظیم و نظارت فعالیت مؤسسات تادیاتی

## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقررۀ بتآسی از احکام مواد ۸۷، ۸۸، ۸۹ و ۹۱ قانون د افغانستان بانک، تهیه و وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره قرار ذیل میباشد:

۱- تعیین شرایط برای صدور جواز، تمدید جواز، تعلیق جواز، فسخ جواز و سایر موارد مرتبط به فعالیت های موسسات تادیاتی.

۲- نظارت بر فعالیت ها و عملکردهای مؤسسات تادیاتی.

**ساحه تطبیق**

**مادۀ سوم:**

(۱) این مقرره برتمام اشـخاص حقیقی و حکمی(داخلی و خارجی)که تقاضای فراهم ساختن خدمات تادیاتی در افغانستان را دارند، تطبیق می گردد.

(۲) این مقرره بربانکها، فروع آنها، فروع بانکهای خارجی که از طرف د افغانسـتان بانک اجازه فعالیت به آنها داده شده است، تطبیق نمی گردد.

**اصطلاحات**

**مادۀ چهارم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- سویچ ملی تادیات الکترونیکی (سیستم تادیات افغانستان): عبارت از ادارۀ است که در سطح کشور در راستای اتصال سیستم های مؤسسات مالی (بانکی و غیر بانکی) به منظور تسهیل پروسه پرداخت های الکترونیکی؛ مطابق قوانین، روش ها و معیارات بین البانکی مورد نیاز را تعیین میکند. این سیستم معیارات طرح کارت ملی کشور را که شامل تنظیمات تخنیکی و تجاری می باشد، نیز تهیه می نماید.

۲- بانک حصول کننده (گیرنده): بانک است که دارای وسیله الکترونیکی تادیاتی بوده و همزمان مشتریان سایر



Office of the General Co
Da Afghanistan B

پېرودونکي کولای شي د برېښنايي ادراینو لپاره له دې برېښنايي وسیلې څخه کار واخلي.

٣- د کارت صادروونکی بانک:_هغه بانک دی چې د پېرودونکي لپاره بانکي کارت صادروي او پېرودونکی کولای شي د ادراینېزې مؤسسې له لارې د برېښنايي ادرایني په برخه کې له یاد بانکي کارت څخه کټه واخلي.

٤- د برېښنايي ادراینو د خدمتونو وړاندې کوونکی: له هغو مالي مؤسسو څخه عبارت دي چې په هیواد کې د برېښنايي ادراینو خدمتونو اسانتیاوې برابروي. په دې ادارو کې د برېښنايي پیسو او ادراینېزې مؤسسې شاملې دي.

٥- ادراینـــیزه مؤسســـه:_دا د برېښـــنايي ادراینـــو د خـــدمتونو د چمتـــو کونکـــو یـــوه کټګـــوري ده چې د برېښنايي ادراینـو وسـیلو لکـه ATM، POS ، ګرځنده ټلیفونونـو او نـورو چې ترلاسـه کـوونکي وسـیلې هـم بلـل کـیږي پـه کـارولو سره د ادراینـو خدمتونـه د یـو ځانګړي پلېټ فارم سره وړاندې کوي.

٦- ترلاسه کیدونکي خدمتونه (Acquiring Services): د ادراینیزو مؤسسو په استازیتوب د ادراینو د وسیلو له چمتو کولو څخه عبارت دي ترڅو د مالي مؤسسو پېرودونکو ته معاملې اسانه کړي.

٧- استازی( Agent):_هر هغه څوک چې دتړون، قرارداد او د ادراینېزو وسیلو په کارولو سره د ادراینیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د سپارل شویو مکلفیتونو په پروسه کې د ادراینېزې مؤسسې استازیتوب کوي.

٨- پلورنځی(Merchant):پلورنځي،رستورانتونه، اکاډمیک بنسټونه، دولتي ادارې، مؤسسې او نور بنسټونه چې د ادرایني برېښنايي وسیلې لکه POS ماشینونه لري او د هغې په کارونې سره د پېرودونکو ادرایني په برېښنايي توګه تر سره کوي.

٩- آف پی - Afpay: دا د ملي ادراینو د کارتونو یو ډول دی چې په کارولو سره یې برېښنايي ادرایني د برېښنايي ادراینو ملي سویچ له لارې ترسره کېږي.

١٠- د ادراینو د سیستم د منلو لومړنی سند:_دا یو سند دی چې د ادرایني مؤسسې د جواز د غوښتنې له وړاندې کولو وړاندې د ادرایني مؤسسې د سیستم سره د نښلېدو په اړه د افغانستان د ادراینو سیستم له لورې صادرېږي.

١١- تسویه کول: د تصفیې له بهیر څخه وړاندې د پیسو د لېږد او تائید پروسه ده چې پدې پروسه کې د تصفیې د پروسې لارښود او د هغې د وروستیو شرایطو چمتو کول هم شامل دي.

بانک ها می توانند به منظور پرداخت های الکترونیکی از این وسیله الکترونیکی استفاده نمایند.

٣- بانک صادر کننده کارت: بانک است که کارت بانکی را برای مشتری صادر می نماید و مشتری می تواند از کارت بانکی در پرداخت های الکترونیکی از طریق مؤسسه تادیاتی استفاده نماید.

٤- فراهم کنندۀ خدمات تادیات الکترونیکی: عبارت از آنعده مؤسسات مالی اند که خدمات پرداخت الکترونیکی را در کشور تسهیل می نماید. این نهاد ها شامل مؤسسات پول الکترونیکی و مؤسسات تادیاتی می گردد.

٥- مؤسســۀ تادیــاتی: عبــارت از یــک کتگــوری از فـــراهم کننـــده خـــدمات تادیـــات الکترونـــیکی اســـت کـــه خـــدمات تادیـــاتی را بـــا اســـتفاده از وســـیله هـــای تادیـــات الکترونـــیکی چـــون ATM، POS، مبایـل وغیـره کـه بنـام ابـزار حصـولی نـیز یـاد می گـردد؛ بـا پلتفـارم مخصـوص فـراهم می نماید.

٦- خدمات حصولی (Acquiring Services): عبارت از فراهم ساختن ابزار تادیاتی ازطرف مؤسسات تادیاتی به منظورتسهیل معاملات مشتریان موسسات مالی می باشد.

٧- نماینده (Agent): هر شخصیکه به نمایندگی از مؤسسه تادیاتی در جریان تفاهم، قرار داد و مکلفیت های واگذار شده در فراهم ساختن خدمات تادیاتی با استفاده از ابزار تادیاتی، دخیل باشد.

٨- فروشنده (Merchant): فروشگاهها، رستورانت، مراجع اکادمیک، ادارات دولتی، مؤسسات، و غیره مراجع که ابزار یا وسیله تادیات الکترونیکی مثلاً ماشین POS نزد شان موجود بوده و پرداختهای مشتریان را با استفاده از آن طور الکترونیکی انجام میدهند.

٩- اف پی Afpay : عبارت از یک نوع کارت های پرداخت ملی است که با استفاده از آن پرداخت های الکترونیکی به وسیله سویچ ملی پرداخت الکترونیکی صورت می گیرد.

١٠-سند قبولی ابتدایی سیستم تادیات: عبارت از سند است که قبل از ارائه درخواستی جواز مؤسسۀ تادیاتی توسط سیستم پرداخت افغانستان در مورد چگونگی اتصال سیستم مؤسسه تادیاتی صادر می شود.

١١-تسـویه کـردن: عبـارت از رونـد انتقـال و تصـدیق وجـوه قبـل از رونـد تصـفیه و نـیز ایـن پروسـه شـامل راهنمـایی هـای رونـد تصـفیه و فـراهم سـازی شرایـط نهایی آن می شود.

۱۲- تصفیه: د دوو یا ډېرو اړخونو ترمنځ د بیه لرونکو پاڼو یا پیسو د لېږد له لارې د مکلفیتونو د پاکولو پروسه ده.
۱۳- د مالي بازار جوړښت: دا د ګډون کونکو ادارو تر منځ یو څو اړخیز سیستم دی چې په هغه کې عملیاتي سیستمونه شامل دي چې د اداینو، تصفیې، مالي مشتقاتو یا نورو مالي معاملو د پاکولو، تصفیې یا ثبتولو لپاره کارول کېږي.

**<u>د اداینیزو مؤسسو ماډل</u>**

**پنځمه ماده:**

اداینیزې مؤسسې د اداینیزو خدماتو د وړاندې کوونکې له کټګوریو څخه یوه کټګوري ده چې د افغانستان بانک له تصویب څخه وروسته رامنځته کېږي او د ترلاسه کوونکو وسیلو او استازي څخه دکار اخیستنې خدمات وړاندې کوي. په دې خدماتو کې ATM، POS/mPOS، ګرځنده مبایل اپلیکېشنونه، د آنلاین اداینو میتودونه او د اداینو نور چینلونه شامل دي چې کورنۍ او نړیوالې جیبي بټوې او د کارتونو طرحې مني. اداینیزه مؤسسه کولای شي له مالي مؤسسو سره، په ځانګړې توګه د بانکونو سره د لازمې همغږۍ او تړون لاسلیکولو په برخه کې او د افغانستان د اداینو ملي سویچ (د افغانستان د اداینو سیستم) سره د اړیکې نیونکې په توګه ترلاسه کیدونکې او د استازي خدمتونه وړاندې کړي.

## دویم څپرکی

## د جواز ورکولو شرطونه

**<u>د غوښتنې د فورمې ډکول</u>**

**شپږمه ماده:**

(۱) غوښتونکی اړ دی چې د غوښتنې فورمه ډکه کړي.
(۲) غوښتونکی د دقیق لوستلو وروسته د اداینیزې مؤسسې د ژمنې فورمه او د جواز شرایط لاسلیک کړي.
(۳) د دې فورمو نمونې د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت، د جواز ورکولو په څانګه په ابن سینا واټ، کابل- افغانستان کې شتون لري.

**<u>د غوښتنې شرطونه</u>**

**اوومه ماده:**

د اداینیزې مؤسسې د جواز غوښتونکی اړ دی چې لاندې شرایط پوره کړي:
۱- د اداینیزې مؤسسې د جواز غوښتونکی د یو ځانګړي سوداګریز نوم لاندې د اداینیز شرکت (د انتفاعي مؤسسې)

۱۲- تصفیه: عبارت از روند رفع مکلفیت ها ذریعۀ انتقال وجوه یا اوراق بهادار میان دو یا جوانب بیشتر می باشد.
۱۳- ساختار بازار مالی: عبارت از سیستم چند جانبه میان نهادهای اشتراک کننده بوده که شامل سیستم عامل بمنظور تصفیه، تسویه یا ثبت پرداخت ها، اوراق بهادار، مشتقات مالی یا سایر معاملات مالی بکار گرفته می شود.

**<u>مُدل مؤسسات تادیاتی</u>**

**مادۀ پنجم:**

مؤسسات تادیاتی یک کتگوری از فراهم کنندگان خدمات تادیاتی بوده که پس از تصویب و منظوری د افغانستان بانک ایجاد می گردد و خدمات استفاده از ابزار حصولی (Acquiring Instrument) و نماینده (Agent) را فراهم میسازد. این خدمات شامل ATM, POS/mPOS، اپلیکشن های مبایل، راه های پرداخت آنلاین و سایر کانال های تادیاتی که طرح های کارت و بکسک جیبی داخلی و بین المللی را قبول کند، می گردد. مؤسسه تادیاتی می تواند در هماهنگی لازم و عقد قرارداد با موسسات مالی بخصوص بانکها و اتصال با سویچ تادیات ملی افغانستان (سیستم تادیات افغانستان) منحیث ارتباط دهنده، خدمات حصولی و نماینده را فراهم سازد.

## فصل دوم

## شرایط جوازدهی

**<u>خانه پوری فورم درخواستی</u>**

**مادۀ ششم:**

(۱) درخواست کننده مکلف است فورم درخواستی را خانه پوری نماید.
(۲) درخواست کننده فورم تعهد و شرایط جواز مؤسسه تادیاتی را بعد از مطالعه دقیق امضاء نماید.
(۳) نمونۀ این فورم ها در شعبۀ جوازدهی آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی واقع ابن سینا وات، کابل افغانستان در دسترس قرار دارد.

**<u>شرایط درخواستی</u>**

**مادۀ هفتم:**

متقاضی جواز مؤسسه تادیاتی مکلف است شرایط آتی را تکمیل نماید:
۱- در خواست کننده جواز مؤسسه تادیاتی تحت نام مشخص تجارتی به حیث یک شرکت تادیاتی

په توګه د صنعت او سوداګرۍ وزارت یا اړونده اداره کې ثبت شي.

۲- په غوښتنلیک کې د غوښتنلیک ورکوونکي د ارتباطي شخص نوم او بشپړ معلومات د جواز ورکولو پروسې پړاوولو په موخه شامل وي.

۳- غوښتنلیک د وړاندیز شویو ونډه والو لېست او د ونډو سلنه ولري.

٤- غوښتونکی اړ دی چې د اداینیزې مؤسسې د څار پلاوي او اجرایوي مسؤلینو (اجراییوي رئیس ، عملیاتي آمر ، مالي آمر ، د قانون او مقرراتو د رعایت آمر) ژوندلیکونه چمتو کړي.

٥- یو شخص نه شي کولای په یو وخت کې دوه ځایه دندې تر سره کړي.

٦- د ونډه لرونکي سوانح، معتبر پاسپورټ یا تذکرې او د ونډې جوړښت وړاندې کول.

۷- د دې مقــــرراتو سره ســــم د پالیســــیو، کــــړنلارو، پلانونــــو، لارښــــودونو او لارښــــوونو وړاندې کول.

۸- د افغانســتان د ادایــنو سیســتم د ادارې لخــوا د شرکت د تخنیکي سیســتم (پلیټ فــارم)، د افغانســتان د ادایــنو سیســتم سره د نښــلولو د وړتیــا پــه اړه لــومړنی تائید لیک.

۹- د پام وړ ادایزې مؤسسې بنسټلیک (اساسنامه)

۱۰- د پام وړ ادایزې مؤسسې تشکیلاتي جوړښت

۱۱- د دې مقررې د صراحت سره سم د نورو شرایطو بشپړول.

**د شرکت پانګه**

**اتمه ماده:**

(۱) هغه خپلواکه اداره چې د ادایزې مؤسسې د جواز لپاره غوښتنلیک بشپړوي اړه ده چې د افغانستان بانک له لوري له ټاکل شوو اړتیاوو سره سم په هر وخت کې کافي پانګه ولري.

(۲) د غوښتنلیک د وړاندې کولو پر مهال، غوښتونکی د ادایزې مؤسسې د رامنځته کولو لپاره باید لږ تر لږه ۱۰ میلیونه افغانۍ مالي پانګه ولري، چې دا اندازه د مؤسسې د کاري حجم او پراخوالي په پام کې نیولو سره زیاتیدلی شي او په هر وخت کې اداینیزه مؤسسه اړه ده چې لږ تر لږه دوه میلیونه افغانۍ نغدې پیسې ولري.

**د پالیسیو او کړنلارو ټولګه**

**نهمه ماده:**

(۱) ادایزه مؤسسه اړ ده چې لاندې پالیسیانې او کړنلارې ولري:

(مؤسســه انتفــاعی) در وزارت صــنعت و تجــارت و یــا ادارۀ مربوطه ثبت شود.

۲-درخواستی حاوی نام و معلومات مکمل شخص ارتباطی در خواست دهنده به منظور طی مراحل پروسه جواز دهی می باشد.

۳-درخواستی حاوی لست سهمداران پیشنهاد شده و فیصدی اسهام، می باشد.

٤-درخواست دهنده مکلف است تا بیوگرافی هیئت نظار و مسئولین اجرائیوی (رئیس اجرائیوی، آمر عملیاتی، آمر مالی، آمر رعایت از قوانین و مقررات) مؤسسه تادیاتی مورد نظر را ارائه نماید.

٥-یک شخص نمی تواند در عین زمان در دو بست ایفای وظیفه نماید.

٦-ارائه سوانح سهمدار، پاسپورت معتبر و یا تذکره و ساختار اسهام.

۷-ارائه پالیسی، طرزالعمل ها، پلان ها، دســتورالعمل ها و رهنمود ها طبق این مقرره.

۸-تصدیق نامه ابتدایی از اداره سیستم پرداخت افغانستان در مورد توانایی اتصال سیستم تخنیکی؛ (پلاتفارم) مؤسسه مورد نظر با سیستم پرداخت افغانستان.

۹-اساسنامه مؤسسه تادیاتی مورد نظر.

۱۰-ساختار تشکیلاتی مؤسسه تادیاتی مورد نظر.

۱۱-تکمیل ســایر شــرایط حســب صــراحت این مقرره.

**سرمایۀ مؤسسه**

**مادۀ هشتم:**

(۱) نهاد مستقل که درخواستی را برای اخذ جواز مؤسسه تادیاتی تکمیل میکند، مکلف است در هر زمان طبق نیازمندی های وضع شده توسط د افغانستان بانک، سرمایه کافی داشته باشد.

(۲) حین ارائه درخواستی، متقاضی مکلف به داشتن حد اقل ۱۰ میلیون افغانی سرمایه مالی به منظور تاسیس مؤسسه تادیاتی می باشد که این مبلغ می تواند با درنظرداشت وسعت و حجم کاری مؤسسه بیشتر وضع گردد و در هر زمان مؤسسه تادیاتی مکلف به داشتن حد اقل ۲ میلیون افغانی پول نقد می باشد.

**مجموع پالیسی ها و طرزالعمل ها**

**مادۀ نهم**

(۱)مؤسسه تادیاتی مکلف است پالیسی ها و طرزالعمل های ذیل را دارا باشد:

۱- د اخلاقي اصولو لارښود.
۲- د خطرونو د مدیریت او د قوانینو او مقرراتو د رعایت پالیسي.
۳- عملیاتي پالیسي.
٤- د محاسبې، راپور ورکولو او مالي پالیسي.
٥- د داخلي پلټنې پالیسي.
٦- د ترهګرۍ د تمویل او پیسو مینځلو څخه د مخنیوي پالیسي.
۷- د بشري سرچینو پالیسي.
(۲) ادارینیزه مؤسسه باید د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې لږ تر لږه لاندې پالیسیانې ولري:
۱- د شبکې پالیسي
۲- د سیتسم امنیتي پالیسي.
۳- د بحران د پوښښ مدیریت پالیسي ( پېښو ته د رسېدنې پالیسي).
٤- له تقلب څخه د مخنیوي او کشف پالیسي.
٥- د کار د دوام مدیریت پالیسي.
٦- یوزر (کارن) ته د لاسرسي پالیسي.
۷- د دریم شخص د لاسرسي پالیسي.
۸- له لرې لارې څخه د لاسرسي پالیسي.
۹- د زیان رسونکو سافټویرونو د مدیریت پالیسي.
۱۰- د پټنوم( پاسورډ) د مدیریت پالیسي.
(۳) معیاري تړونونه:
۱- د کارول شوي تخنیکي سیستم/ پلیټ فارم وروستی تړون.
۲- لوی استازی یا وېشونکی.
۳- استازی.
٤- سوداګریز ونډه لرونکي.
(٤) د افغانستان د اداینو له سیستم سره د نښلېدو څخه وروسته د افغانستان د اداینو له سیستم سره تړون.

## سوداګریز پلان

**لسمه ماده:**

(۱) سوداګریز پلان اوږدمهاله سوداګریزې موخې چې د پراخې بازار موندنې، عملیاتي، تخنیکي او مالي ستراتیژیو لخوا یې ملاتړ کېږي په بر کې راونغاړي.هغه وخت چې د سوداګریز پلان تر پوښښ لاندې راځي لږ تر لږه باید ۳ کاله وي.
(۲) سوداګریز پلان باید ټولې انګیرنې چې د سوداګرۍ د موخو او نورو اړتیاو د ملاتړ لپاره چې د افغانستان بانک له لورې د څارنې د پروسې په اوږدو کې د ټاکل کېږي، په بر کې ونیسي.

۱- رهنمود اصول اخلاقی.
۲- پالیسی مدیریت خطرات و رعایت و پیروی از قوانین و مقررات.
۳- پالیسی عملیاتی.
٤- پالیسی محاسبه، گزارش دهی و مالی.
٥- پالیسی بررس داخلی.
٦- پالیسی جلوگیری از پولشویی و تمویل تروریزم.
۷- پالیسی منابع بشری.
(۲)مؤسسۀ تادیاتی در بخش تکنالوژی معلوماتی حد اقل دارای پالیسی های ذیل باشد:
۱- پالیسی شبکه.
۲- پالیسی امنیتی سیستم.
۳- پالیسی مدیریت پوشش بحران (رسیدگی به حوادث).
٤- پالیسی کشف و جلوگیری از تقلب.
٥- پالیسی مدیریت تداوم کار.
٦- پالیسی دسترسی به یوزر (کاربر).
۷- پالیسی دسترسی جانب ثالث.
۸- پالیسی دسترسی از راه دور.
۹- پالیسی مدیریت نرم افزارهای مضر.
۱۰- پالیسی مدیریت گذرواژه ها (پسورد).
(۳) قراداد های معیاری:
۱- قرارداد نهایی سیستم تخنیکی مورد استفاده / پلاتفارم.
۲- نماینده بزرگ یا توزیع کننده.
۳- نماینده.
٤- شرکاء تجاری.
(٤)موافقت نامه با سیستم پرداخت افغانستان بعد از اتصال با سیستم تادیات افغانستان.

## پلان تجاری

**مادۀ دهم:**

(۱) پلان تجاری اهداف دراز مدت تجاری را که توسط ستراتیژی های جامع بازاریابی، عملیاتی، تخنیکی و امور مالی حمایت می شود در بر داشته باشد. حد اقل مدت زمانی که تحت پوشش پلان تجاری قرار گیرد ۳ سال می باشد.
(۲) پلان تجاری تمام فرضیه ها را برای حمایت اهداف تجاری و سایر نیازمندی ها را که توسط د افغانستان بانک در جریان پروسه بررسی مشخص می گردد، در بر داشته باشد.

**د شرطونو د پلي کېدو څخه ډاډ تر لاسه کول**

**يولسمه ماده:**

د ادايينزي مؤسسې د جواز د ترلاسه کولو په موخه د غوښتنليک ارزونه د لاندې موضوعاتو په څېړنه، پلټنه او تفسير پورې اړه لري، مګر تر دې محدود نه دي:

۱-د شرکت مالي وضعيت او سلامتيا.

۲-د مؤسسې او د هغې د ونډه لرونکو پېژندنه د افغانستان دننه او بهر د سوداګريزو شريکانو په ګډون په هر اړخ پورې چې تړاو ولري.

۳-د مالي ثبات او سلامتيا ساتلو لپاره په ټولو برخو کې پاليسيانې، ميتودونه او کړنلارې.

٤-د کارکوونکو او پرسونل تخنيکي مهارت.

**د ونډه لرونکي/ ونډه لرونکو بدول او د مالکيت لېږد**

**دوولسمه ماده:**

(۱) هيڅوک نشي کولای چې د افغانستان بانک له مخکېنۍ منظورۍ پرته، په ادايينزه مؤسسه کې خپله د جواز ونډه بل شخص ته وليږدوي.

(۲) ونـډه لرونکي/ ونـډه لرونکي يـا د دوی واک لرونکي اسـتازي چې د ونډو اخيسـتلو يا پلورلو غوښـتنه لري، د غوښـتنليک پروسې د پراوولو په موخه په کابل کې د غير بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمريت، ساحوي زونونو او د افغانسـتان بانک ولايتي څانګو ته ولاړ شي او د ونډه لرونکي/ ونـډه لرونکو د بـدلون يـا د مـالکيـت د لېږد غوښـتنليک ترڅنګ لاندې اسـناد او معلومات وړاندې کړي:

۱- د ونډو د ترلاسه کولو يا لېږدولو د څرنګوالي او دليلونو په اړه د غوښتنليک وړاندې.

۲- د اړونده اداري له لورې د بنسټليک (اساسنامې) د تعديل تاييدي.

۳- د مالياتي نه باقيداری تصديق وړاندې کول.

٤- د جرمي او مالي جرمونو د عدم مسؤليت تصديق وړاندې کول.

٥- د فعاليت اصلي جواز .

٦- نور معلومات او اسناد چې د افغانستان بانک يې اړين وګڼي.

(۳) غوښـتونکي اړ دی چې د ونډه لرونکي /ونډه لرونکو د بدلون، د ادايينزې مؤسسې د مالکيت د لېږد په اړه د خپل فعاليت د ځای په يوه ورځپاڼه کې خبرتيا خپره کړي او د هغې يوه کاپي د افغانستان بانک ته وسپاري.

(٤) د افغانسـتان بانک د ونډه لرونکي / ونډه لرونکو د بدلون او د مالکيت لېږد غوښـتنليک په هغه صـورت کې منظوروي چې نوی شـخص د دې مقررې سره سـم ټول معيارونه پوره کړي وي.

**حصول اطمینان از تطبیق شرایط**

**مادۀ یازدهم:**

بـررسی درخواسـتی اخـذ جـواز مؤسسـه تادیـاتی وابسـته بـه مطالعـه، بـررسی و تفسـیر مـوارد آتی بوده اما محدود به این ها نمی شود:

۱- وضعیت و سلامت مالی شرکت.

۲- شهرت مؤسسه و سهمداران آن و هر جناح وابسته به آن به شمول شرکای تجاری در داخل و خارج از افغانستان.

۳- پالیسی ها، روش ها و طرزالعمل ها در تمام عرصه ها جهت حفظ ثبات و سلامت مالی.

٤- مهارت تخنیکی کارکنان و پرسونل.

**تغییر سهمدار/سهمداران، انتقال مالکیت**

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) هیچ شخص نمی تواند بدون منظوری قبلی د افغانستان بانک سهم جواز خویش را در مؤسسه تادیاتی به شخص دیگر انتقال دهد.

(۲) سهمدار/سـهمداران یـا نماینـده صـلاحیت دار آنهـا کـه تقاضـای حصول یـا فـروش سـهم را داشـته باشـد، جهـت طی مراحـل درخواسـتی بـه آمریـت عمـومی نظـارت از مؤسسـات مـالی غیربـانکی درکابـل، زونهـای سـاحوی و نماینـده گیهای د افغانسـتان بانـک در ولایـات حضـور یافتـه و مـدارک و معلومـات آتی را بـا درخواسـتی تغییـر سهمدار/سـهمداران و یـا انتقال مالکیت ارائه نماید:

۱- ارائـه درخواسـتی در خصـوص چگـونگی و دلایـل حصول یا واگذاری سهم.

۲-تائیدی اساسنامه تعدیل شده از مرجع مربوطه.

۳- ارائه تصدیق عدم باقیداری مالیاتی.

٤- فراهم سازی تصدیق عدم مسوولیت جرم جنایی و مالی.

٥- اصل جواز فعالیت.

٦- سـایر معلومـات و مـدارک حسـب لـزوم دیـد د افغانستان بانک.

(۳) درخواست دهنده مکلف است تا اطلاعیه را در مورد تغییر سهمدار/ سهمداران، انتقال مالکیت مؤسسه تادیاتی در یکی از جراید محل فعالیت خویش به نشر سپرده و یک نقل آن را به د افغانستان بانک ارائه نماید.

(٤) د افغانستان بانک در صورت درخواستی تغییر سهمدار/سهمداران و انتقال مالکیت را منظور می نماید که شخص جدید تمام معیارات را طبق این مقرره تکمیل نماید.

Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank

**د مؤسسې منحلول**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) هر کله چې د اداینیزې مؤسسې ونډه لرونکی/ ونډه لرونکې یا واک لرونکی استازی( شرعي وکیل) وغواړي چې مؤسسه له منځه یوسي ، نو د له منځه وړلو غوښتنلیک( د فعالیت پرېښودل) يې په لیکلې بڼه د بشپړې شوو فورمو سره په مرکز او ولایتونو کې د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي مؤسسو آمریت د جواز ورکولو مدیریت ځانګې ته سپاري.

(۲) د ونډه لرونکې/ونډه لرونکو یا د اداینیزې مؤسسې واک لرونکي استازي له لورې د مؤسسې د له منځه وړلو (فعالیت بندولو) د غوښتننه ولري، د غوښتنلیک سربېره، د لاندې اسنادو او معلوماتو وراندې کول هم اړین دي:

۱-د مؤسس د له منځه وړلو دلیلونه د فعالیت د اصلي جواز سپارل.

۲-د مالیاتي نه باقیدارۍ (تصفیې) تصدیق وړاندې کول او د جرمي او مالي جرمونو د عدم مسؤلیت تصدیق وړاندې کول.

۳-په چاپي او انځوریزو رسنیو کې د خبرتیاوو خپرول.

٤-د پلورونکو، استازو او سوداګریزو ونډه لرونکو تر منځ د حساب د تصفیې د اسنادو وړاندې کول.

٥-د پېرودونکو او د هغوی د معاملو د ټولو سوابقو او معلوماتو وړاندې کول.

٦-د افغانستان د اداینو له سیستم سره د سیستم نښلېدل له منځه وړل او په اړه يې اړین سند وړاندې کول.

۷-نور اسناد او معلومات چې د افغانستان بانک يې غوښتنه کوي، وړاندې کول.

(۳) د مؤسسې د له منځه وړلو دغوښتنلیک له منظورۍ وړاندې، غوښتونکی کولای شي د مؤسسې د له منځه وړلو څخه د یوې لیکلې خبرتیا او غوښتنې په وړاندې کولو سره تیر شي او خپل فعالیت ته دوام ورکړي.

(٤) د له منځه وړلو د منظورۍ شرایې او څرنګوالی په اړونده کاري کړنلاره کې ځانګړی شوی دی.

(٥) اداینیزې مؤسسې چې په ورته نوم سره د الکترونیکي پیسو د مؤسسې د جواز اخیستو اراده لري، د جواز د له منځه وړلو پر مهال د دې مادې د ۲ فقرې د ۳ او ۶ بند په رعایت مکلفې دي.

**د فعالیت د جواز ځنډول**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د افغانستان بانک کولای شي د اداینیزې مؤسسې جواز په لاندې شرایطو کې وځنډوي:

**انحلال مؤسسه**

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) هرگاه سهمدار/ سهمداران یا نماینده با صلاحیت (وکیل شرعی) مؤسسه تادیاتی بخواهد مؤسسه را منحل نماید، درخواستی انحلال (ترک فعالیت) بصورت کتبی با تکمیل فورمه های اختصاصی مدیریت جوازدهی آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی در مرکز و نمایندگی های د افغانستان بانک در ولایات، صورت می گیرد.

(۲) در صورت تقاضای انحلال (ترک فعالیت) از طرف سهمدار/سهمداران و نماینده با صلاحیت مؤسسه تادیاتی، برعلاوه درخواستی، مکلف به ارائه اسناد و معلومات ذیل نیز می باشد:

۱- ارائه دلایل انحلال مؤسسه و تسلیمی اصل جواز فعالیت.

۲- ارائه تصدیق عدم باقیداری مالیاتی و فراهم سازی تصدیق عدم مسوولیت جرم جنایی و مالی.

۳- نشر اطلاعیه در رسانه های تصویری و چاپی.

٤- ارائه سند تصفیه حساب بین شرکاء تجاری، نمایندها و فروشنده ها.

٥- تسلیم دهی تمام معلومات و سوابق مشتریان و معاملات آنها.

٦- لغو اتصال سیستم از سیستم تادیات افغانستان و ارائه سند لازم.

۷- سایر معلومات و مدارک که از طرف د افغانستان بانک مطالبه می گردد.

(۳) قبل از منظوری درخواستی انحلال مؤسسه، درخواست دهنده می تواند با ارائه اطلاعیه و درخواستی کتبی از منحل ساختن مؤسسه انصراف و به فعالیت خویش ادامه دهد.

(٤) چگونگی و شرایط منظوری انحلال در طرزالعمل کاری مربوطه مشخص می گردد.

(٥) مؤسسات تادیاتی که اراده اخذ جواز مؤسسه پول الکترونیکی را به عین اسم دارند، حین فسخ جواز مؤسسه تادیاتی مکلف به رعایت بند ۳ و ٦ فقره ۲ این ماده نمی باشد.

**تعلیق جواز فعالیت**

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) د افغانستان بانک تحت شرایط آتی می تواند جواز مؤسسه تادیاتی را تعلیق نماید:

Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank

۱- د د ادارینیزې مؤسسې ونډه لرونکی/ ونډه لرونکي د جواز د ځنډېدو غوښتنه وکړي.
۲- د قوانینو او مقرراتو څخه د مکررې سرغړونې په صورت کې.
۳- د افغانستان بانک د لازم ګڼلو او د نورو شرایطو او مواردو په پام کې نیولو سره.
(۲) په هغه صورت کې چې د فعالیت جواز د افغانستان بانک لخوا وځنډول شي، د جواز اخیستونکی اړ دی چې په ټاکلې موده کې جواز له ځنډ څخه وباسي. د نه اقدام په صورت به فعالیت جواز فسخه شي. که چیرې قضیه د عدلي او قضایي ارګانونو تر څېړنې لاندې وي، د جواز اخیستونکی د واک لرونکي ارګان یا مرجع له وروستۍ پرېکړې څخه وروسته په دریو میاشتو کې د ځنډ د لرې کولو لپاره اقدام وکړي، له دې پرته جواز فسخه کېږي.
(۳) د ادارینیزې مؤسسې له لورې د جواز د ځنډولو د غوښتنې په صورت کې، غوښتونکی اړ دی چې د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت او په ولایتونو کې د افغانستان بانک نمایندګیو ته لیکلې غوښتنه وسپاري. د جواز د ځنډیدو زیات نه زیات حد یو کال دی او لږ تر لږه حد یې درې میاشتې دی.
(٤) ادارینیزه مؤسسه نه شي کولای چې د جواز د ځنډ په موده کې فعالیت ترسره کړي.
(٥) په هغه صورت کې چې د دې مادې د (۳) فقرې له مخې ځنډ صورت ونیسي، د جواز لرونکی اړ دی چې:
۱- د زیات حد څخه وړاندې د جواز د ځنډ د لرې کولو لپاره لیکلی غوښتنلیک وسپاري.
۲- په هغه صورت کې چې د افغانستان بانک سره په ثبت شوو معلوماتو کې بدلون راشي، د جواز اخیستونکی د موضوع په اړه د افغانستان بانک ته خبر ورکړي.
(٦) هرکله چې د جواز لرونکی تر ټاکل شوې مودې پورې مراجعه ونکړي، موضوع په لیکلې بڼه د جواز لرونکي پتې ته لیږل کیږي او وخت ورته ټاکل کېږي؛ د لیکلې بڼې خبرتیا له صادرېدو څخه وروسته د نه مراجعې په صورت، د فعالیت جواز فسخهه کېږي.
(۷) د ادارینیزې مؤسسې له لوري د ځنډ د غوښتنې په صورت کې، د دولسمې مادې، دوهمې فقرې شرایط د پلي کېدو وړ دي.

۱- سهمدار/سهمداران مؤسسه تادیاتی درخواست تعلیق جواز را ارائه نماید.
۲- درصورت تخطی و تخلف مکرر از قوانین و مقررات.
۳- نظر به سایر شرایط و موارد، حسب لزوم دید د افغانستان بانک.
(۲) در صورتیکه جواز فعالیت از طرف د افغانستان بانک تعلیق گردد، دارنده جواز مکلف است که طی مدت تعین شده، مراجعه و تعلیق جواز را مرفوع سازد، در غیر آن جواز فعالیت فسخ می گردد. در صورتیکه قضیه تحت دوران و بررسی ارگان های عدلی و قضایی باشد، دارنده جواز در مورد رفع تعلیق حد اکثر الی سه ماه بعد از فیصله نهایی ارگان یا مرجع ذیصلاح اقدام نمایند در غیر آن جواز فسخ می گردد.
(۳) درصورت تقاضای تعلیق جواز از طرف مؤسسه تادیاتی، درخواست دهنده مکلف به ارائه درخواست کتبی به مدیریت جوازدهی آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی د افغانستان بانک و در ولایات به نمایندگی های د افغانستان بانک میباشد. جواز حد اکثر الی یک سال و حد اقل برای مدت ۳ ماه تعلیق می گردد.
(٤) مؤسسه تادیاتی نمی تواند در مدت تعلیق جواز، فعالیت نماید.
(٥) در صورتیکه تعلیق طبق فقره (۳) این ماده صورت گیرد، دارنده جواز مکلف است تا:
۱- قبل از حد اکثر زمان تعیین شده با ارائه درخواستی کتبی تقاضای رفع تعلیق جواز نماید.
۲- در صورتیکه در معلومات ثبت شده نزد د افغانستان بانک تغییرات رخ داده باشد، دارنده جواز موضوع را اطلاع دهد.
(٦) هرگاه دارنده جواز الی زمان تعیین شده مراجعه ننماید، موضوع کتباً به آدرس موصوف اخبار و مهلت تعیین می گردد. در صورت عدم مراجعه بعد از صدور اطلاعیه کتبی، جواز فعالیت فسخ می گردد.
(۷) در صورت درخواست تعلیق از طرف مؤسسه تادیاتی، شرایط فقره (۲) ماده ۱۲ قابل تطبیق می باشد.

## د فعالیت دجواز فسخه کول

**پنځلسمه ماده:**

(۱) دا فغانستان بانک کولای شي د لاندې شرایطو په بنسټ د اداینیزو خدمتونو د وړاندې کوونکو جواز فسخه کړي:

۱- په هغه صورت کې چې اداینیزه مؤسسه ونه توانیږي د جواز د صادرېدو له نېټې څخه وروسته د دریو میاشتو په اوږدو کې په فعالیت پیل کړي.

۲- په هغه صورت کې چې ونډه لرونکی/ ونډه لرونکي او یا یې مسؤولین د څارنې په بهیر کې غلط یا ګمراه کوونکي او نا قانونه معلومات وړاندې کړي.

۳- په هغه صورت کې چې د اداینیزې مؤسسې ونډه لرونکی/ ونډه لرونکي د افلاس سره مخ وي.

٤- پـه هغـه صـورت کې چې د اداینـیزې مؤسسې د فعالیت جـواز د میاشـتني راپـور د نـه لېږلـو لـه أملـه وځنـډیږي، د ځنـډ پـه تـاکلې مـوده کې؛ کـه چـېرې یې د ځنـډ د لـه منځـه وړلـو پـه موخـه اقـدام تـرسره نـه شي، نو جواز به لغوه شي.

(۲) د جواز د فسخه کېدو په صورت کې، د جواز ونډه لرونکی/ ونډه لرونکي اړ دي چې خپل فعالیتونه سمدلاسه ودروي او تر ټاکلې مودې پورې د فعالیت اصلي جواز د افغانستان بانک ته تسلیم کړي.

(۳) د ادانیزو خدمتونو د وړاندې کوونکي د جواز د فسخه کېدو په صورت کې، د دولسمې مادې د دوهمې فقرې شرایط د پلې کېدو وړ دي.

## د جواز ورکیدل یا سوځېدل

**شپاړلسمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د اداینیزې مؤسسې جواز ورک یا وسوځیږي، د ادانیزې مؤسسې مسوولین اړ دي چې له ورکېدو څخه وروسته د ۳۰ کاري ورځو په اوږدو کې د افغانستان بانک ته په لیکلي ډول راپور ورکړي، او د ورکیدو خبرتیا یې لږ تر لږه د یوې ډیرې خپریدونکې خپرونې یا د یوې خبرتیا له لارې په مارکیټ یا د فعالیت په ځای کې خپره کړي.

(۲) په هغه صور کې چې د خبرتیا د خپرېدو څخه وروسته تر ۲۰ ورځور پورې د فعالیت جواز پیدا نه شي، د ادانیزې مؤسسې مسوولین اړ دي چې افغانستان بانک په مرکزي دفتر، زونونو او ولایتي څانګو کې د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت ته د لاندې اسنادو او لیکلي غوښتنلیک په وړاندې کولو سره مثنې( دوهم) جواز تر لاسه کړي:

## فسخ جواز فعالیت

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) د افغـانسـتـان بانک تحت شـرایط آتی می توانـد جـواز خـدمـات تادیاتی را فسـخ نمـاید:

۱- در صـورتیکه مؤسسـه تادیـاتی نتوانـد در خـلال (۳) مـاه بعـد از تـاریخ صـدور جـواز، فعالیـت را آغـاز نماید.

۲- در صـورتیکه سـهمدار/سـهمداران و یا مسـوولین آن معلومات غلط یا گمراه کننده و غیر قانونی حین پروسه نظارتی ارائه نماید.

۳- در صورتیکه سهمدار/سهمداران مؤسسه تادیاتی ورشکسته شده باشد.

٤- درصورتیکه مؤسسه تادیاتی بعد از تعلیق جواز فعالیت مبنی بر عدم ارسال گزارش ماهانه، در مدت تعیین شده ذریعه مکتوب تعلیق؛ اقدام به رفع آن ننماید، جواز مذکور فسخ می گردد.

(۲) در صورت فسخ جواز، سهمدار/سهمداران جواز مکلف است تا فعالیت های خویش را بصورت فوری توقف داده و اصل جواز فعالیت را الی مهلت تعیین شده به د افغانستان بانک تسلیم نماید.

(۳) در صـورت فسـخ جـواز تادیـاتی، شرایـط فقـره (۲) مـاده دوازدهـم قابـل تطبیـق می باشد.

## مفقودی یا حریق جواز

